مسؤولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

تاند ۲۷ جون ۲۰۱۹

# د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړيکې د چا په ګټه؟

هندوستان او هندوستانه زیړدلی هیواد پاکستان له افغانستان سره تاريخي ترانيزيتي اړيکې لري ،چې له 1920زيږديز کال څخه مخکې د هیواد سوداګرو خیل سوداګريز توکي د ننګرهار له لارې پیښور ته او له هغه ځايه کراچي ته لیږدول او د بیړۍ په وسیله يې نورو هیوادونو ته صادرول.

خو په 1920زيږديز کال کې د برېتانيي د همکارۍ نه کولو په دلیل افغانستان مجبور شو چې د خپلي سوداګرۍ لورى د پخواني شوروي اتحاد خوا ته بدل کړي او له هغې لارې خپل توکي پرته له ګمرکي محصوله نړۍ ته ولیږ دوي . خو د شپېتمي زیږديزې لسيزې په کلونو کې افغانستان د سوداګرۍ يو ټرانزيتي تړون د پاکستان له هیواد سره لاسليک کړ چې د هغه له مخې افغاني سوداګريز توکي د کراچي د بندر له لارې او د پاکستان له خاورې څخه په تیریدو، پرته له ګومرکي تعرفې څخه افغانستان ته واردات وکړي او دهیواد صادراتي توکي نورې نړۍ ته له همدې لارې صادر کړي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزيت او سوداګرۍ نوی تړون يا(APTTA) د 2011 کال د جون میاشتې په 12مه نیټه د یادو هیوادو د حکومتونو ترمنځ نافذ شو. دا تړون افغان لاريو ته اجازه ورکوي چې د کراچۍ سمندري بندر، قاسم بندر او ګوادر بندر له لارې د هند او چین او دا راز د نړۍ د پاتې برخو سترو بازارونو ته افغان محصولات ولیږدوي. دا تړون د 1965زیږديز کال تړون و ، چې د افغانستان د ټرانزيت او سوداګرۍ تړون یا (APTTA)په نامه یادیږي، ځای نیسي. نن ورځ چې د هیواد سیاسي ، امنيتي او اقتصادی وضعیت په ښه حالت کې نه دی پاکستان په دې وضعه کې مخامخ لاس لري تل د هیواد په کورنیو چارو کې مداخله کوي په هیواد کې امنيتي ستونزې راپیدا کوي. د امنيتي ستونزو تر څنګه يې اقتصادي جګړه هم پیل کړې ده د هیواد اقتصادي بنستونه رغیدو ته نه پريږدي، افغانستان يې د خپلو غیرې معیاري توکو بازار ګرځولی دی. د پاکستان له لارې افغان توکي د سیمو هیوادونو ته تر ټول نژدې لار ده خو پاکستان تل دا لار د هیواد په مقابل کې د یو فشار په توګه کارولې تل يې نړیوال او اپټا تړون تر پښو لاندې کړی دی چې له همدې کبله اوس مهال افغانستان له پاکستان سره سوداګري کمه کړې ده .

دا چې افغانستان هم پخواني افغانستان نه دی په هیواد کې د سوداګرۍ او ټرانزيت په برخه کې یو څه پرمختګ ترسره شوی دی افغانستان په شمالي بندرونو پانګونه کړې او یو شمیر نورې لارې هم پرانیستي چې هیواد په یو ډول د پاکستان له انحصار څخه خلاص دی او پاکستان هم په دی موضوع سر خلاص دی نو ځکه د پاکستان حکومت غواړي بیرته له افغانستان او منځنی اسيا سره سوداګريزې اړيکې پراخې کړي چې د اړيکې د افغانستان له لارې پراخيږي . که څه هم د افغانستان او پاکستان تر منځ یو شمیر مسلې نه دي حل شوي چې دوه اساسي مسلې(ډیورنډ لاین او اوبه) د سیمې د بې ثباتی اساسي عوامل دي او د اوبو ستونزه لاپسي ډیریږي ځکه پاکستان تر 2025 زیږديز کال پورې د هغو هیوادونو په قطار کې راځي چې د اوبو له کمښت سره به مخ وي او هندوستان هم د پاکستان په مقابل کې د خپلو اوبو په اړه ورځ تر بلې جدي کیږي . پاکستان د اوبو د نړیوالو اصولو خلاف د کابل په سیند بندونه جوړ کړي او هڅه کوي چې نور هم جوړ کړي ترڅنګ يې په افغانستان کې هم د اوبو د بندونو د جوړیدو مخنیوی کوي چې ښه مثال يې په کونړ او پکتیا کې د اوبو بندونو د جوړیدو مخنیوی دی .

د دوو مسلو ترڅنګ په اقتصادي لحاظ افغانستان او پاکستان د نژدې کیدو امکان لري ځکه پاکستان اوسمهال له ګڼو اقتصادي ستونزو سره مخ دی د ساري په توګه د اقتصادي ودې کمښت، د نفوسو ډیربښت، کورني جنجالونه، د اسعارو په وړاندې د پاکستانی کالداري بې ساری کمښت،د پاکستان د اسعاري زیرمو کمښت، پاکستان نړیواله سوداګرۍ کې کمښت،د پاکستان په داخل کې د قیمتونو بې ثباتي په همدې ډول پاکستان غواړی مرکزي اسيا هیوادونو ته ځان ورسوي ځکه له پاکستانه څخه هندوستان په چټکۍ سره غواړي مرکزي اسيا هیوادونو ته ځان ورسوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ترڅنګه يې غواړي نړيوالی سوداګرۍ له لارې اسعار ترلاسه کړي د پاکستان لپاره منځنی اسيا چې 73 ميلونه نفوس لري ډير مهم دی ځکه مرکزي اسيا د انرژۍ غني سرچينې لري او پاکستان بيا انرژۍ له کمښت سره مخ دی چې تر ټولو اسانه او نژدې لار يې افغانستان دی او پاکستان د خپل ټولې بهرنۍ سوداګرۍ 8 سلنه له مرکزي اسيا سره ترسره کوي ،په همدې ډول نړيواله کچه بې باوري يا له تروريزم سره همکاري دا ټول هغه څه دي چې پاکستان مجبور دی چې خپلې اقتصادي پاليسۍ تغير کړي ان تر دې چې د پوځ بودجه هم کمه کړي .

په همدې ډول د افغانستان لپاره هم اړينه ده چې په اقتصادي لحاظ پاکستان سره نژدې شي ځکه د هېواد د سوداګرۍ لپاره يا ټرانسپورټ تر ټولو نژدې او اسانه لارې پاکستان دی چې زموږ په خير يو بېوزله هېواد لپاره همدا مناسبه ده .تر څنګ يې له ايران سره د امريکا د اړيکو خرابيدل يو نه يو ډول افغانستان اغيزمنوي او تر ټولو اړينه او مهه خبره د افغانستان رول د مرکزي او سويلي اسيا په يو ځای کيدو کې د پاکستان جغرافيا ده چې بې له دې امکان نه لري او يا ډيره ستونزمنه ده ښه بيلګه يې د هوا له لارې هندوستان ته سفر دی چې يو ساعت څلويښت دقيقو سفر اوسمهال تر پينځو ساعتو ته اوږد شوی دی چې تراوسه افغانستان 15 ميلونه ډالره زيان هم کړی دی او يوه خبره بايد په ياد ولرو چې د سويلي اسيا نور هېوادونه لکه بنګلاديش،نيپال، سريلانکا،مالديف،بوتان ټول له هندوستان سره په جغرافيايی لحاظ نژدي او ټولې چارې افغانستان، دی هېوادونو بايد د هندوستان له لارې تنظيم کړي او د هندوستان لپاره تر ټول نژدې لار بيا پاکستان دی . د دې ترڅنګ هغه لارې چې افغانستا ترې سوداګري کوي يو څه اوږدې او افغان سوداګر د ويزې او نورې اداري ستونزې هم لري . تر څنګه يې د ايران سره د امريکا ستونزې په همدې ډول په وروستيو کې د چين کې داويغور مسلمانو سره د چين حکومت چلن چې د ترهګرۍ سخپې تر چين پورې په رسيدو دي په همدې ډول د تل په څير روس او امريکا تر منځ کړکيچ چې په پايله کې امکان لري چې منځنی اسيا لارو کې د افغانستان لپاره ستونزې پيدا شي او په همدې ډول د چين او روسې د ولسمشرانو کيناستل او نژدې والی د امريکا په وړاندې يو څه ستونزې را پيدا کولای شي، په هېواد کې د هوايي دهليزونو پرانيستل هم زموږ په څير د يو غريب هېواد سوداګرو ته ګټور نه دي ځکه دا ډول دهليزونه د قيمتي توکو د ليږد لپاره کارول کيږي او موږ يوازې کرنيز توکي په کې ليږدوو . په همدې ډول که د چين يو سړک يو کمربند پروژه په سويلي اسيا کې ترسره شي نو د سويلي اسيا او مرکزي د دوو هليزونو چې په همدې پروژې پورې اړه لري افغانستان يې د نښلولو تر ټول نژدې لار ده .نو له پورتنيو څرګندونو څخه معلوميږي چې د پاکستان لپاره افغانستان او د افغانستان لپاره پاکستان اړين دی څو دواړه هېوادونه په نړيواله سوداګرۍ کې پراختيا رامينځته کړي او ګټه ترلاسه کړي نو که افغانستان له پاکستان سره په سوداګرۍ په برخه کې يو بل سره همکاري کوي نو د دواړو هېوادونو په ګټه ده خو د اوبو په مسله کې افغانستان بايد په دې اړه هيڅ بحث ونه کړي ځکه په دی برخه کې افغانستان زيان کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ